سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۱۲ / ۱۰

برتانوي هند او برتانوي پنجاب دواړه، د پښتنو د ویښتیا ضد!

لومړی برخه:

دوې ورځې وړاندې د افغانستان ولسمشر حامد کرزي، په یوه خبري ناسته کې د بیات ټولنې د تلویزیون خبریال ښاغلي قدیرمیرزایی د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل « نه یوازې دا چې افغانستان، بلکې په پاکستان کې هم پښتانه د افراطیت په لاس او د افراطیت پرخلاف د جګړې په نوم، د ترهګرۍ په لاس او د ترهګرۍ پرخلاف د جګړې په نوم، د یوې لویې نړیوالې توطیې قرباني دي. »

البته ما د نوموړي خبریال د پوښتنې په اړه د ولسمشر کرزي د ځواب تفصیل اوریدلی دی چې کیدای شي لوستونکي یې په رسنیو کې په خپله تفصیلي بڼه ولولي، خو پورته مې یوازې یوه اصلي برخه ددې لیکنې د لامل پټوګه راواخیسته چې کرزي د افغانستان د ولسمشر پټوګه د لومړي ځل لپاره په دومره وضاحت، د لروبرو پښتنو په وړاندې د یوې نړیوالې چلوتې څخه پرده پورته کړې ده!

ښایي لوستونکي وپوښتي چې داسې خبرې خو په رسنیو کې هره ورځ تکراریږي او په دې خبره کې نوی شی نشته خو د افغانستان د ولسمشر پټوګه د یوې مهمې مسلې سره په وضاحت تماس او د یوې نړیوالې چلوتې څخه دده په وینا پرده پورته کونه ، د عادي رسنیو له خبر سره بیخي توپیر لري!

ولسمشر کرزي ته باید په داسې سپینه وینا شاباس وویل شي او هغه پخپلو ویناوو او کړنو کې روڼتیا او ریښتینولۍ ته وهڅول شي .

د ۱۹۴۷ کال مخکې چې برتانوي هند ؛ د هندوستان او پاکستان په نوم په دوو جلا هیوادونو نه و ویشل شوی او د ډیورنډ کرښې کوزه غاړه افغانان یا پښتانه په برتانوي هند پورې تړلي وو، بریتانیا د هند د لویې وچې د نورو قومونو او ایتنیکي ډلو پر خلاف، پښتنو لپاره جلا پالیسي او تګلار پر مخ بیوله . د دې پالیسۍ منځتګی دا وو چې د نوې اومدرنې ښوونې روزنې ، ښوونځي او پوهنتون څخه کوز پښتانه لرې وساتي او بلخوا د پښتنو ښوونه داسې ملایانو ته وسپاري چې ډیرکیو یې د انګریزي جاسوسي کړیو سره اړیکې درلودې!

د عصري ښوونې څخه د پښتنو لرې ساتل او خپلو انګریزي ملایانو ته ددې قوم برخلیک سپارنه ، انګریز په سیمه کې د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره هغه مهال ضروري ګڼل . انګریزغوښتل پښتنو څخه د داسې یو ځواک په توګه کار واخلي چې که پوه او خبرشي بیا به د خپلو ملي ګټو لپاره کاریږي، خو که ناپوه او بې خبره وساتل شي، د انګریز د اوږدمهاله ګټو لپاره په سیمه کې ددې قوم جوړه او اندول نه لیدل کیږي !

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ټوله کې د ډیورنډ کوزې او برې غاړې افغانانو او لوی افغانستان ته، انګریز د یوې زیرمې او ریزرف پټوګه کتل چې له نړۍ څخه ګوښه ساتل به یې یوه ورځ په کار راشي !

یو امریکایي ختیځپوه ښاغلی ایکناټ سوارن « حضرت پاچاخان ژوند اوفلسفه» نومې خپل کتاب کې لیکي: «انګریزان چې په دې پوه شول چې د خان د سکولونو نظام وده مومي او پښتون کې بیداري راځي، دوی د خان د سکولونو استادانو ته د قیدوبند ډهمکې ورکړې او ځیني استادانو د ازادو سکولونو ملازمت پریښود . هغه سرګرمۍ او خیالات چې نور هندوستان کې به زغملی شول او ډادګیرنه به یې کېده ، هغه پښتونخوا کې نه شول زغمل کېدلی . د انګریز پوځي افسران د پښتنو په بیدارۍ ډېر په تشویش کې وو. د هغوی سینه د پښتنو لپاره کله هم پراخه نه وه او نه د پښتون په حواله سره هغوی تهذیب یافته وو (۱) ».

ښاغلی ایکناټ بل ځای لیکي « ده (پاچاخان) چې کار شروع کړ، په هر قدم او ګوټ کې اختلافاتو دده مخه نېوله . د ملاکنډ ایجنسۍ پولیټیکل ایجینټ ډېر سختګیر انسان و. ده خو به لا په څرګنده د خان کارکنانو ته ډهمکې ورکولې او لا به یې په عجیبه عجیبه طریقو د دوی کار کې خنډان پیداکول. ددې پولیټیکل ایجینټ چې ښاغلی کېب نومېده، له دې نه بل څه کار نه وو چې پاچا خان تر خپل رعب لاندې راولي. ده یوه ورځ د دیرنواب خپل دفتر ته راوبللو او په ضلعه کې یې د یوازینې سکول په باب وویل چې نواب سیب: دا سکولونه او دا سبق موږ لپاره خنډان پیداکوي، که ته غواړې چې ددې سکول په وجه تا ته مشکلات پیدا نه شي نو غوره خبره دا ده چې څومره ژر کېدای شي دا سکول تبا کړه . نواب سیب څو ورځو کې دننه دننه دا سکول تباکړ (۲)»

د کتاب لیکوال په بل ځای کې لیکي « د ۱۹۳۱ م کال د دیسمبر په ۲۲ مه د پښتونخوا انګریز چیف کمشنر سررالف ګرفټ د پاچاخان سره خبرې وکړې. د خان خبرې ساده او عام فهمه وې. ده سررالف ته ووی چې تاسو د پښتنو قبایلو په وژلو او تباکولو کومې پیسې خرڅوی ، که دا تاسو د دوی لپاره په وړو وړو کارخانو جوړولو او سکولونو او سړکونو خرڅ کړی وای، نو پښتون به ستاسو دښمن نه، بلکې دوست او ملګری وو. تاسو ته به له پښتون څخه د ډار څه ضرورت نه و. څونه چې بهارت د روس د یرغل نه د ساتلو خبره ده نو دا کار هله په ښه توګه کېدای شي چې تاسو پښتون ته په خپله خاوره واک او اختیار ورکړی. پاچاخان ورته دا خبره ښه صفا وکړه چې هیڅوک پر موږ حکومت نه شي کولای ، که څوک خلاف جنګ کول غواړي موږ د خپلې خاورې او خپل وطن د تحفظ لپاره خپل هر څه قربانولو ته تیار یوو (۳) »

ادامه لري

اخځونه :
(۱) د ایکناټ سوارن لیکنه : د حضرت پاچاخان ژوند او فلسفه له کتاب څخه (۱۵۵) مخ
(۲) همغه کتاب (۱۴۰) مخ
(۳) همغه کتاب (۲۶۶) مخ

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ